# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۱مه | ۵۱۲مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ

### ستېفن کېنګ



ستېفن لیکلو ته بیخي د یوې رسمي دندې په سترګه ګوري. ډېر لیکل کوي، لږ خبرې کوي او تر ډېره په نړۍ کې د وحشتناکو داستانونو پر لیکوال مشهور دی.

# د ټاکنیزو ناندریو دوام؛

## ګډه کمېټه به د دری سوه زره جنجالي رایو په اړه پرېکړه کوي



۳

### د جوابیدن خبرو ته معقول او مناسب غبرګون

۲ مخ


### تاریخ او د جمهوریت په نوم آمریتونه

۲ مخ

### د رهبرانو کره څه تېرېږي؟

۳ مخ

## رستمي: په راتلونکي ۱۳۹۹یم کال کې به د کبانو د تکثیر څلور لوی فارمونه جوړ شي



د کرنې وزارت چارواکو ویلي چې په راتلونکي ۱۳۹۹یم کال کې د کبانو د روزنې پر پیاوړتیا کار کوي. دوی وایي، په کابل، پنجشیر، بامیانو او بلخ ولایتونو کې به د کب روزنې څلور لوی تکثیري فارمونه جوړ کړي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي، یاد جوړېدونکي فارمونه به هر یو په کال کې د کبانو ۲۸ میلیونه بچیان تولید کړي.

رستمي ویلي، د کب روزنې د پراختیا د هغې طرحې پر اساس چې د کرنې وزارت له خوا چمتو او د اقتصاد عالي شورا له خوا تایید شوې، د فارمونو د جوړولو تر څنګ به تر دې وروسته د کرنې وزارت د کب روزنې د تکثیري فارمونو پر جوړولو ډېر کار کوي، څو د خصوصي سکټور لپاره د کب روزنې د ودې فرصتونه برابر شي.

د دغه وزارت ویاند ویلي چې په ۱۳۹۹یم کال کې د کب روزنې د څلورو تکثیري فارمونو د جوړولو په پار ۴۵ میلیونه افغانۍ ځانګړې شوې دي.

## شاهین: په دوحه کې له امریکایي پلاوي سره د مذاکراتو پر پایلو او راتلونکو اقداماتو خبرې شوې

د طالبانو د قطر دفتر مرکچي پلاوي له امریکا سره د مذاکراتو د نتایجو او ځینو نورو مهمو موضوعاتو په تړاو بحث او خبرې کړې دي.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین په خپله ټویټرپاڼه لیکلي چې د طالبانو سیاسي مرستیال ملا برادر د ملا فاضل، ملا خیرالله خیرخواه او مولوي امیر خان متقي په ملتیا، د قطر د بهرنیو چارو له وزیر او زلمي خلیلزاد سره ناسته کړې او په ناسته کې د مذاکراتو پر نتایجو او ځینو مسایلو بحث شوی دی.

شاهین ویلي: «د اسلامي امارت سیاسي مرستیال ملا برادر، ملا محمد فاضل مظلوم، ملا خیرالله خیرخواه او مولوي امیرخان متقي د قطر له خارجه وزیر او ډاکټر زلمي خلیلزاد سره ناسته درلوده، د مذاکراتو د نتایجو او بعدي اقداماتو په اړه یې په ځینو مهمو موضوعاتو بحث وکړ.» په ورته وخت کې د سولې له روانو مذاکراتو باخبره کسان وایي، امریکا له طالبانو سره تر هوکړې وروسته، د مذاکراتو پر بریالي کېدو ټینګار کوي چې د حکومت په ګډون، د طالبانو او افغان سیاسي جهتونو تر منځ بین الافغاني مذاکرات اسانه شي او هېڅ لوری ترې د باندې پاتې نشي.

خو طالبانو ته نږدې سرچینې بیا وایي، د طالبانو او امریکا تر منځ خبرو کې د امریکایي ځواکونو پر حضور باندې خبرې کېږي، که امریکایان د خپلو ځواکونو له وتلو سره موافقه ونه کړي، د مذاکراتو بریالیتوب ناممکن دی.

په ورته مهال افغان حکومت وایي، هر کله چې د متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ هوکړه لاسلیک شي، بین الافغاني مذاکرات پیلېږي او د دغو خبرو لپاره به د پنځلس کسیز مذاکراتي پلاوي ترکیب اعلان شي.

## د ناټو دفاع وزیران سبا او بل سبا د افغانستان په اړه په بلجیم کې ناسته کوي



۵ مخ

## کمیسیون حقوق بشر: حملات هوایی بر افراد ملکی در بادغیس و فراه باید بررسی شود

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان

۱۶ جوزا ۱۳۸۱

کمیسیون مستقل حقوق بشر، ضمن تائید تلفات ملکی در ولایات بادغیس و فراه؛ از نهادهای امنیتی، عدلی و قضایی خواستار بررسی همه‌جانبهٔ این حمله‌ها به منظور رسیده‌گی به شکایت‌های حقوقی آسیب‌دیده گان و جبران خسارت‌های وارده بر آنها شده است. در خبرنامه مطبوعاتی کمیسیون مستقل حقوق بشر آمده است که بر اساس یافته‌های کمیسیون، در شب جمعه ۱۳۹۸/۱۱/۱۸ بر اثر یک حمله هوایی در منطقه «قوروتوی» ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس، به تعداد شش تن از افراد ملکی کشته شده و سه تن دیگر زخمی شده‌اند. منبع افزوده است که هم‌چنین در تاریخ ۱۹ دلو، واسطه نقلیه تاجران و کمیشنکاران گمرک ولایت فراه، هنگام حرکت به طرف بندر شیخ ابونصر فراهی (واقع در روستای «کاریز شیخ‌ها» در ۲۰ کیلومتری شمال‌شرق ولایت فراه)، هدف حمله هوایی نیروهای خارجی قرار گرفته و همه پنج تن سرنشین آن کشته شده‌اند. در ادامهٔ خبرنامه آمده است که کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان، همواره بر رعایت اصول حقوق بین‌الملل بشردوستانه، حقوق بشر و حقوق اساسی مردم افغانستان، پافشاری و درباره افزایش تلفات ملکی و پیامدهای منفی آن برای نظام سیاسی و حامیان بین‌المللی آن، ابراز نگرانی کرده است. کمیسیون حقوق بشر، این حمله‌ها را از مصداق‌های جنایت جنگی می‌داند و اکنون، ضمن نکوهش شدید آنها، بار دیگر، نگرانی شدید خود را در این‌باره ابراز می‌کند و خواسته مکرر خود را از تمام طرف‌های درگیر مبنی بر حفاظت از جان، مال، حقوق و منافع شهروندان غیرنظامی کشور، با جدیت تمام تکرار می‌کند.




## دریځ

### د جوبایډن خبرو ته معقول او مناسب غبرگون

د امریکا د متحده ایالتونو د جمهوري ریاست په ټاکنو کې د ډیموکرات گوند یو نوماند جوبایډن وایي، چې هغه له پیله په افغانستان کې د ملت جوړونې له نظریې سره مخالف و. بایډن ویلي چې افغانستان داسې هېواد نه دی چې یو موټی شي. نوموړي ووېل: «زه په افغانستان کې د ملت جوړونې له مفکورې سره هېڅ موافق نه وم. یوازینی کار چې باید ویې کړو، په هغه سیمه کې د تروریزم ضد مبارزه ده.» نوموړي په یوه ټلوېزیوني مناظره کې ویلي چې افغانستان ته د سفرونو پر مهال دې نتیجې ته رسېدلی: «چې د دغه هېواد یو موټی کول هېڅ امکان نه لري، هېڅ امکان نه لري چې افغانستان یو موټی هېواد شي.»
جوبایډن د ولسمشرۍ لپاره د ډیموکراتانو په خپلمنځي ټاکنو کې مخکښ کاندید دی او ښایي نوموړی له ټرمپ سره سیالۍ ته هم را ووځي. هغه د اوباما مرستیال هم و او پخوا یې ویلي وو چې د افغانستان یوه برخه باید پاکستان ته وسپارل شي او هلته امریکا خپله ښکېلتیا کمه کړي. ارگ او ځینو سیاستوالو د بایډن دا خبرې رد کړې او ویلي یې دي چې افغانستان یو واحد ملت او یو موټی هېواد دی او په دې برخه کې امریکا ته اړتیا نه لري.
د پخواني ولسمشر حامد کرزي په گډون، ځینو سیاستوالو او فعالینو امریکا تورنه کړې چې په تېرو نولسو کلونو کې د افغان ملت د وېشلو لپاره منظمې هڅې کړې دي.
له شک پرته چې په افغانستان کې د امریکا ښکېلتیا د افغان ملت یووالي او یو موټي افغانستان ته زیانونه رسولي دي. امریکا د تبلیغاتو او سیاسي پروگرامونو او تپل شوې حکومتولۍ پر مټ هڅه کړې، چې د افغانانو په منځ کې نفاق زیات کړي او خلک لا زیات سره ووېشي. دوی هر څه قومي کړي او د قومونو تر منځ یې فاصلې رامنځ ته کړې دي.
اوس که جوبایډن واک ته راځي، نو دا خطر زیاتېږي چې امریکا به لا زیات زموږ د وېشلو هڅه وکړي. زموږ چارواکي او سیاستوال جوبایډن ته غبرگون ښیي، خو دا غبرگون تر ډېره تش الفاظ او احساساتي دي. د جوبایډن خبرو او د افغان ولس د وېشونکو دریځونو او عملونو ته یو معقول، کارنده او اغېزناک غبرگون پکار دی. د دغه غبرگون لپاره پکار ده چې افغانان په خپلو منځونو کې درولي دېوالونه ونړوي. اوس باید موږ د نیویارک او واشنگټن د کوڅو د امنیت په پله د خپلو خلکو پر ضد جگړه بنده کړو. پکار ده چې د سولې لپاره ټولې هلې ځلې وکړو، حکومتي چارواکي باید د سولې په لاره کې خنډونه جوړ نه کړي او اوسني مخالفتونه ختم کړي.
که موږ یو موټی شو، که موږ خپل ځانونه پر ترهگرو او امریکایي پلوو په نومونو ونه وېشو، که موږ یو د بل پر ضد جگړه بنده نه کړو، که موږ د خپل ورور د وژنې لپاره له امریکا او ای اېس ای سره ملگري ونه کړو، نو موږ به په واقعي مانا د یو ملت په شان عمل کړی وي. همداسې کړنې او دریځ د جوبایډن او بل هر هغه چا خبرو ته مناسب او معقول غبرگون دی چې د افغانانو د وېشلو هڅې کوي.

# تاریخ او د جمهوریت په نوم آمریتونه

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

**وروستۍ برخه:**
**د امریکا یرغل او د جمهوریت په نوم اباد آمریت**

سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ادارې او روایات د زمانې، وخت او ټولنې د اړتیاوو له مخې جوړېږي، گټه یې تر هغه وخته وي چې له حالاتو سره سم کار وکړي. که له حالاتو سره مزل ونه شي کولای، نو زوال پرې راځي، په دې لړ کې اداره او ارزښت یې باید ورغول شي او یا یې پر ځای نوې ادارې او ارزښتونه رامنځ ته شي، د جمهوریت د همدې ځانگړنې له مخې مونږ گورو چې د نړۍ په هره برخه د ولسي حاکمیت د خوندي کولو پر بنسټ جمهوریت د هغه سیمې، خاورې او کلتور د روح پر بنسټونو غوړېدلي او د وخت په تېریدو وروستیو نسلونو د خپلې اړتیا، گټو او چاپېریال له غوښتنو سره سم بدلونونه پکې راوستي، همدا چاره د دې سبب شوې چې جمهوریت د یو ټولو اجماع سیاسي نظم په توگه ومنل شي.
په گران افغانستان کې د امریکا له یرغل سره جوخت د امریکایي یرغل مدافعو په اصطلاح افغانانو د امریکایي یرغل او ځانونو د برائت په موخه، ولس ته ډېرې رنگینې وښودې چې یو پکې ولس ته د دودپالو خلاف د سیاسي واک او اختیار د گرځولو شعار و، چې یوازې د تاریخي جمهوریت د بیا احیا له لارې ممکن بلل کېدل.
امریکا او ملاتړو افغانانو یې د دې ایډیال او فاضله مدینې د بنسټیزه کولو په نوم افغان ولس ته د بمباردونو، خپلسریو، قانون ماتونو، چاپو، بې وزلۍ، ځانځانۍ او افغان وژنو بغیر هېڅ هم ورنه کړل.
په دې لړ کې د حامد کرزي تر دوه لسیزې ډېره واکمني ختمه او د سیاسي واک لیږد په ۲۰۱۴ ز کال کې د نړۍ په کچه د بدنامو ټاکنو له لارې نه؛ بلکې د امریکا په سفارت کې د جانکیري په امریکایي جرگو سره فیصله شوه، چې پایله او مشروعیت یې له حقوقي او سیاسي پلوه کاواکه، بې واکه او نیم ژواندی حکومت د ملي یووالي په نوم و. افغان ولس ډاکتر غني ته د تېرو دوو لسیزو کم کاریو د جبران او د نړدې نیمې پېړۍ د بدلون په موخه د یوه قاطع، اکاډمیسن او له حالاتو څخه د سترې بدیل په توگه رایه ورکړه.
مگر ډاکتر غني ارگ ته تر رسېدو وړاندې د ناکامې حکومتواله پر لور لومړنی او تر ټولو فاسد گام د ملت د ارادې، د تاریخ د تجربې او د اساسي قانون د روح خلاف د گډ او گډوله حکومت جوړولو معاملې ته او شخصي گټو ته پر ملي گټو د ترجیح له لارې واخیستل.
همدارنگه په دویم گام کې یې په ارگ کې د افغان ولس د غوښتنو، ملي لومړیتوب او له سولې سره په دښمنۍ کې چې پایله یې د جگړې او افغان وژنې دوام و، د خپل کار په لومړیو ۲۴ ساعتونو د ننه کې له امریکا سره د لعنتي امنیتي تړون د لاسلیک له لارې پورته کړل، د کوم تړون له امله چې جگړه پنځه کاله نور هم وغځېده، یوازې په څلورو کلونو کې د سیگار د راپور پر بنسټ، ۶۰۰۰۰ افغان امنیتي ځواکونه وژل شوي، داعش زیږېدلی، د لویو ښارونو سقوط او د افغانستان تر نیمې پر زیاته خاوره د طالبانو واکمني خو لا اوږده پړه ده.
مگر د دې ټولو باوجود افغان ولس تمه لرله چې حکومت به د امریکا- افغان جگړې د پای په برخه کې د طالبانو او امریکا خبرو ملاتړ وکړي او د جگړې د پای ته رسېدو له لارې به طالب او ټول افغانان په گډه د خپل حال، شرایطو، گټو او غوښتنو سره سم د پردو له لاسوهنې پرته د ولس د آزادې پر بنسټ د جمهوریت پر یو معقول او ممکن ډول اجماع وکړي.
ولې اوس گورو چې د ولسمشر غني حکومت د سولې د سبوتاژ او د بهرنیانو پر شتون د تاکید له لارې د یوه خیالي جمهوریت د دفاع داعیه اوچته کړې، هغه جمهوریت چې د آمریت، پولیسي واکمنۍ، مطلقه شاهي او ماموریت بڼه یې پرې غالبه ښکاري او د ولسواکۍ څرک هم پکې نه ښکاري.
د بېلگې په توگه، د ارگ په گډون د مهمو اداراتو له لوري رسنیو ته د مالوماتو نه ورکول، دا څکه د مستبدو حکومتونو یو اصل پر مالوماتي سرچینو بندیز او سانسوروي چې څوک د هیواد پر روانو چارو پوه نه شي، په دې حکومتو کې یوازې د دوی خپلې رسنۍ د دوی په خوښه خپروني کوي او کوښښ کوي چې پر آزادو رسنیو د فشار له لارې هغوی له میدانه وباسي.
همدارنگه په تازه بېلگه کې افغانستان بیا د ۱۰ مفسدو هېوادونو په نوملړ کې راغلي، ارگ د تدارکاتي پړاوونو بغیر سلگونه پروژې عملیاتي ادارې ته د سپارلو له لارې په بډه وهلي، قانون ماتونه او خپلسرۍ چې د جمهوریت حتمي مرگ دی، مگر دا چاره اوس زموږ د ټولنې او حکومت پر یوه منل شوې برخه او کردار بدل شوې، د جمهوریت په ادارو کې معیار کورنۍ اړیکه، انډیوالي او فساد نه؛ بلکې وړتیا، زیار او پوهه وي، ولې گورو چې ولسمشر د څو محدودو کورنیو په انحصار کې دی، هغه کورنۍ چې نه په ولس کې ریښه لري او نه ورسره اړیکه، بل لور ته د جمهوري ادارو د رامنځ ته کولو بنسټیز اصول دا وو چې واک دې په یوځای کې نه راټولېږي، څکه د واک راټولېدو د آمریت خطر پېښوي، څکه د مرکز، ریاستونو او سیمه ییزې حکومتواله واکونه وتاکل شول، خپاره شول او واکمن یو بل څارې، څو له واکه ناوړه گټه پورته نه کړي، مگر د ولسمشر غني جمهوریت بیا داسې نه دی، ولسمشر د خپل حکومت د شریک بانې ډاکتر عبدالله عبدالله د کمزوري کولو په موخه د تعریف شویو ادارو او وزارتونو له اډانې څخه اداري بنسټونه پرې کړل، واکونه یې ور زیات او کم کړل او حتی کله چې وپوهیده چې فلانی وزیر مدیر او مدبر دی، نو د هغه په مقابل کې یې لسگونه مشابه جوړښتونه او عالي شوراگانې رامنځ ته کړې. د بېلگې په توگه، د سولې شورا د منزوي کولو او د سولې د انحصار په موخه یې د سولې په نوم نوی وزارت رامنځ ته کړ او یا تر دې هم هېښونکې دا چې کله وپوهیده چې له امنیتي ادارو د شخصي او تیمي گټو په موخه، بیخرته گټه نه شي کولای، نو د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ او ځواکمن کېدو پر ځای یې د امریکایانو پر ملاتړ لسگونه ځانگړې خپلسري او جنایتکاري قطعې لکه صفر ۱، ۲، ۳ الي ۲۰ پورې رامنځ ته او د دې له لارې کله شپنۍ چاپې وهي، کله چې یو زورواکی ورسره معاملې ته چمتو نه شي، لکه قیصاري، نو په رڼا ورځ د مزار غوندې ښار کې په مسکوني سیمو خبره تر بمبارده هم رسوي.
د دې تر څنگ، د ډاکتر غني په شاهي، آمریتي او ټولواک جمهوریت کې د حکومت سیاسي مخالفت تر ټولو ستره گنا گڼل کیږي، که څوک په سیاسي ډول د حکومت پر کړنو نیوکه وکړي یا وغواړي چې کمزوري او ناسم اړخونه یې راڅرگند کړي، نو دا کس یا ډله باغي، له ملک سره په خیانت، د شخصي گټو مغرضان او په ټوله کې د دښمن تر کچې خطرناک گڼل کیږي او سزا یې مرگ، بند، ربړونه، د فیسبوک له لارې ښکنځل او انزوا ده. د نیوکې نه زغملو او ورسره د بد چلند دلیل یې دا دی چې حکومت د خپلو قانون ماتونو، سوله دښمنو دریځونو او فسادونو د رسوایۍ له امله ولسي محبوبیت او ملاتړ له لاسه ورکوي، هغه کم رنگه محبوبیت او لږ ولسي ملاتړ هم ورڅخه اخلي او فکر کوي چې د ولس او سیاسي ډلو نیوکې د غرض او دښمنۍ له وجې دي نه د سمون. د دې بېلگې د سویس د داووس له اقتصادي ناستې نیولې چې پخوانی ولسمشر حامد کرزی او ډاکتر عبدالله یې د طرحې پر نه لرلو تورن کړل، بیا د سیاسي گوندونو او سیاستوالو د مشروعیت تر خبرې او دا چې په هره مسئله کې د حکومت ویاندویان خپل سیاسي سیالان په کوم ډول بدو خبرو یادوي، ښې بېلگې دي.
حال دا چې په نوره نړۍ کې په جمهوري نظامونو او حکومتونو کې سیاسي مخالفینو او منتقدینو ته ډېر درناوی کیږي، د دوی وجود د خپلې بریا او جمهوري مشروعیت بېلگه یادوي او د همداسې نقد او ټولنیز واک برکت دی چې په جمهوري حکومتونو کې چارواکي حاظر دي چې ولس ته حساب ورکړي.

**پایله**

د یو روښانه، تاریخي او پر پراخو مستندو بېلگو له راټول تحلیل څخه دې پایلې ته رسیږو، چې جمهوریت یو منلی نړیوال ارزښت دی او د نړۍ هر ملت کولای شي چې د خپلو ارزښتونو، درنښتونو او اړتیاوو په چوکاټ کې دا اصل خپل کړي چې واک به د ولس وي، د استبداد، ظلم، خپلسرۍ، قانون ماتونې او جبر په نوم جمهوریتونه جمهوریت نه؛ بلکې آمریتي ماموریتونه دي، هغه چې ډېر کله د بهرنیو یرغلونو په ترځ کې راټوکیږي او د پردو د پروژه‌یي پنډونو او ملاتړ په ختمیدو سره یې مرگ حتمي وي.
جمهوري ادارې او جوړښتونه د تاریخي بېلگو په رڼا کې عموماً خپل ولس ته له ټولنیزو ازادیو نیولې بیا د هغوی د ملي حیثیت او کرامت تر بحثه خوندي چاپیریال برابروي او کوښښ کوي، څو قانون ته د ژمنتیا، د خپل ملت د سیال کولو او د ټولنې په گټه بدلونونو له لارې ولسواک بنسټونه رامنځ ته او په دې برخه کې سیاسي واک یوازې د ټولنې د ښیرازۍ په برخه کې وسیله واقع شوي وي.
پر همدې بنسټ هغه څه چې نن په افغانستان کې د سولې پر خلاف، د جگړې د دوام او د جمهوریت په نوم او ننگ تر سره کیږي، په حقیقت کې د دغو خلکو د آمریت او ماموریت د نه خوندیتوب او پر شخصي گټو د ولاړو اندېښنو خبره ده، نه د جمهوریت بنسټونو ته د گواښ غم.

**پای**

## ببکزاده: د حکومت نه پاملرنې په شمال کې د غالۍ اوبدلو صنعت زیانمن کړی

په شمال کې د غالیو صادروونکو اتحادیې مسوولین وایي چې په دغه زون کې د غالیو اوبدلو او صادرولو شاوخوا ۴۰ شرکتونو له ډلې یوازې ٦ شرکتونه فعال پاتې دي.
د دوی په خبره، نا امني، د حکومت نه پاملرنه، د بیو لوړوالی او د نړیوال بازار له غوښتنې سره د غالیو نا انډولي د غالیو د کاروبار د پیکه کېدو لاملونه دي.
په ورته وخت کې د بلخ د سوداگرۍ خونه بیا وایي چې غالۍ اوبدونکي باید د خپلو تولیداتو پر مهال نړیوال معیارونه او د بازار تقاضا ته جدي پاملرنه وکړي.
له دې سره په بلخ ولایت کې د غالیو



ځیني کاروباریان له حکومته د بازارموندنې او د خامو موادو په برابرولو کې د مرستې غوښتنه کوي.
په شمال کې د غالیو صادروونکو اتحادیې مشر عبدالستار ببکزاده ویلي چې څو کاله وړاندې په دغه زون کې د غالیو د تولید او صادراتو شاوخوا ۴۰ لوی او واړه شرکتونه فعال وو، چې اوسمهال یې شمېر شپږو ته راټیټ شوی دی.
نوموړي ویلي چې د افغاني غالیو د کاروبار د پیکه کېدو تر ټولو لوی لامل ناامني او د مارکېټ نشتون دی.
هغه زیاته کړې چې د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو ډېری لویې لارې ناامنه دي چې له همدې امله سوداگر د غالیو د لېږد لپاره زړه نه ښه کوي.
نوموړي ویلي، د یادو ستونزو له امله شمال زون کې د غالیو صنعت له رکود سره مخ دی او په خبره یې، له ۴۰ فعالو شرکتونو څخه یې یوازې ٦ شرکتونه پاتې دي.
ببکزاده زیاته کړې چې په دې برخه کې حکومت هم تر اوسه د غالیو له کاروباریانو سره مرسته نه ده کړې.
نوموړي همدا راز ویلي چې د افغاني غالیو د صادراتو او تولید کمېدو بل لامل دا دی چې په نړیوالو بازارونو کې یې تقاضا کمه شوې ده.

# د رهبرانو کره څه تېرېږي؟

لیکوال: نصرت الله حقپال

ورمه ورځ (یک شنبه د سلواغې ۲۰مه) د محمد محقق (د اجرایه ریاست دویم مرستیال) نازولی او ظاهراً ځای ناستی زوی، باقر محقق د هغه د بل زوی «حسین محقق» له خوا په خپل کور کې په داسې حال کې په ډزو ووژل شو، چې باقر محقق د خوب په بستر کې ویده وو.
ممکن دا به په خپل ذات کې لومړی او وروستی هغه نه وي چې د افغانستان د مشرتابه په قشر کې داسې پېښېږي چې یو ورور بل ورور وژني. دا خبره قشر (Elite) چې نسل په نسل د افغانستان د چارو اداره لاس په لاس کوي او د سترو ډبرینو دیوالونو او فولادي امنیتي کمربندونو شاته ژوند کوي، په جګړه کې نه دي وژل شوي او نه هم په کومه چاودنه کې. دوی په خپلو کورونو کې او د ورونو په منځ کې د راتلونکي قدرت د ویش او د خپل بابا (پلار) د ځایناستي کیدو پر سر د را ولاړې شوې لانجې په سر وژل شوي دي.
دا یوازې محقق نه دی چې په کورنۍ او میراث خورو کې یې دا لانجه پرته ده. د راپورونو له مخې، د حزب اسلامي د مشر ښاغلي ګلب الدین حکمتیار په کورنۍ کې ورته لانجه روانه ده او دا ظرفیت په کې ډېر لوړ دی چې یوه ورځ د هغه نازولي د قدرت د ویش پر سر، ماشه په ماشه شي.
دا سیالۍ او تربګنۍ، کابو د افغانستان د رهبرانو په کورنیو کې طبیعي او معمولي خبره ده. خو کله کله بیا د قتل تر مرزه رسیږي چې ډېره غوغا جوړوي. رواني ناروغۍ، اوس یوه هیله ده چې دوی یې د سپر په توګه کاروي او تر شا یې د خپلو کورنیو او ځای ناستو بد وضعیت پټوي.
دلته د قدرت نیول، ساتل او پرسول تر هر بل څه مقدم دي. هغه که د پلار، ورور، دین ، وطن او که حتی د لس ګونو زرو کسانو د مرګ په قیمت تمامیږي، مشکل نشته؛ خو قدرت باید لاس ته راوړل شي. دا د دوی د زامنو ګناه نه ده، د دوی پلرونه، نیکونه او غورنیکونه... په همدغه مفکوره او ذهنیت لوی شوي، روزل شوي او قدرت یې لاس ته راوړی، نو دوی اوس د خپلو سلفو(پخوانیو مشرانو) پر پله روان دي.
د افغانستان اکثریت رهبران او خبره قشر، په خپله طبیعي وړتیا او ظرفیت قدرت ته نه دي رسېدلي. لومړی خو بهرنیو هیوادونو ته د جاسوسۍ له لارې په کاذب ډول رهبران شوي او د هغو په مرسته قدرت ته رسېدلي یا په قدرت کې شریک شوي دي. که ووایم چې د افغانستان اکثریت رهبر قشر، په طبیعي او اصولي توګه قدرت نه دی تر لاسه کړی، نو مبالغه به نه وي. جاسوسي او بهرنیو هیوادنو ته کار کول، دوی ته ویاړ او طبیعي خبره ده او نسل په نسل یې له سلفو، خلفو ته په میراث پاتې کیږي.
د قدرت د تر لاسه کولو بله لار، د قوم په نوم سیاست کول دي. لږ تر لږه په تېرو پنځوسو کلونو کې، د افغانستان سیاستوال او رهبري کوونکی قشر، د قوم په نوم سیاست کوي او ځان یې د یو ځانګړي قوم مدافع او ټیکه دار معرفي کړی. دا دویمه اغیزمنه لار یا وسیله ده چې د رهبرۍ قشر کار ترې اخلي او تر ډېره موثره هم ده. دوی کوښښ کوي چې په افغانستان کې د شته اقوامو تر منځ درز واچوي او د قوم پالنې روحیه په کې پیاوړې او ګرمه وساتي. ځکه چې دا د دوی قدرت تضمین کوي او وده ورکوي، نو په شعوري ډول سره دغه قشر د قوم پالنې مفکوره او احساسات په دوامداره توګه ژوندي ساتي.
د قوم پالنې مفکوره او احساسات، ډېر محدود او تنګ دي. لومړی خو قوم پالونکي کوښښ کوي چې قوم یې پر نورو اقوامو برلاسی وي، کله چې دا مطلوب تر یو بریده لاس ته راغی، نو بیا پر خپل قوم باندې د خپلې کورنۍ برلاسي غواړي؛ کله چې دا کار وشو، نو بیا په خپله کورنۍ کې د ځان برلاسي او واکمني غواړي او کار ورته کوي. نو جګړه او د قدرت د تر لاسه کولو سیالۍ د قوم پالنې په مفکوره او اړیکو کې، یوه طبیعي خبره ده. همدا وجه ده چې ډېری وخت، خبره قشر په خپلو کې یو بل وژني او د خپل قدرت بقا په خپله کورنۍ کې تضمینوي، ولو که یې هغه ورور هم وي.
لومړۍ خو باید چې هر سړی په خپله طبیعي وړتیا قدرت ته ورسیږي او ولس یې په داوطلب ډول د مشر په توګه ومني، نه چې بهرنیو هیوادونو ته د جاسوسۍ له لارې او یا هم د قوم له نوم څخه د یوې حربې په توګه کار واخیستل شي او له دې لارې قدرت ته ورسیږي.
کله چې پورته دوه عمده د قدرت د تر لاسه کولو توکي موجود وي، نو طبیعي ده چې هیڅوک په خپله طبیعي وړتیا او د خلکو په اراده قدرت ته نه رسیږي. نو دلته پکار ده چې دا دوه مفکورې او ذهنیت په شدت سره سرکوب او له منځه لاړې شي او عوام په دې ډول رهبرانو، هیڅ اعتماد ونه کړي. د قدرت د انتقال او تر لاسه کولو میکانېزم دا دی چې لومړی خو په افغانستان کې یو باثباته پوځ او دولت جوړ شي، چې هغه نه کیږي، مګر دا چې موږ د خپلې خاورې مالکیت تر لاسه کړو او له هر ډول بهرني حضور او نفوذ څخه ځان آزاد کړو. هغه وخت دی چې موږ د یو داسې دولت څښتن کیږو چې بنسټ به یې د ولس پر عقایدو، اصولو، ارزښتونو، فرهنګ او تاریخ ولاړ وي او خلک به خپل ځان په دولت کېویني. اسلام د قدرت د انتقال چاره حل کړې او هغه کوم موروثي نظام نه دی، بلکې دا خلک دي چې خپل راتلونکی زعیم ټاکي، نه جاسوسي او قوم پرستي. که داسې ونه شي، نو دغه ناوړه او کړکېچنه د قدرت د تر لاسه کولو طریقه به جاري وي او موږ به یې د اور په لمبو کې سوزو.

# د ټاکنیزو نانډریو دوام؛

## ګډه کمېټه به د دری سوه زره جنجالي رایو په اړه پرېکړه کوي



د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي، دوی به ډېر ژر د دری سوه زره جنجالي رایو په اړه پرېکړه وکړي. دغه کمېسیون وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له لوري به یوه ګډه کمېټه جوړېږي او دغه کمېټه به د دری سوه زره جنجالي رایو برخلیک روښانه کوي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې دوی په خپل تشکیل کې داسې یوه حقوقي او تخنیکي کمېټه لري، نو ځکه د نوې کمېټې جوړولو ته اړتیا نشته ده.
له ولسمشریزو ټاکنو څه باندې څلور میاشتې اوړي، خو لا هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پر دې بریالي نه شول، چې د دغو ټاکنو برخلیک روښانه کړي. د شکایتونو کمېسیون زرګونه شکایتونه وڅېړل، خپلې پایلې یې د ټاکنو له خپلواک کمېسیون سره شریکې کړې، خو د ۳۰۰ زره جنجالي رایو په تړاو یې هېڅ پرېکړه ونه کړه. په لومړي سر کې یې ویل چې په دې اړه د شکایتونو کمېسیون د غړو تر منځ د نظر اختلاف دی، خو اوس وایي چې دغه مسئله به د دواړو کمېسیونونو یوه ګډه کمېټه حل کړي.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له غړو د یوې ګډې کمېټې د جوړولو چارې روانې دي. د دغه کمېسیون په خبره، یاده کمېټه به د دری سوه زره جنجالي رایو په تړاو پرېکړه کوي. چارواکي وایي چې دغه کمېټه به د دری سوه زره جنجالي رایو د برخلیک روښانه کېدو لپاره یو زرو ۴۱۱ محلونه انتخابوي او رایې به یې بیاشمېرنې ته ځي.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د دارالانشا رییس چمن شاه اعتمادي وایي، دغه کمېټه به هغه محلونه او مرکزونه په ګوته کوي چې په اړه یې په پرېکړو کې وضاحت ورکړل شوی دی. هغه وایي: «د دې کمېټې یوه اساسي وظیفه دا ده چې هغه محلونه په نښه او مشخص کړي چې د کمېسیون د فیصلو له مخې ستونزې پکې موجودې دي.»
د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون دغه خبره ردوي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، دوی د ستونزې د حل لپاره په کمېسیون کې ورته یوه حقوقي او تخنیکي کمېټه لري، نو ځکه د نوو او ګډو کمېټو جوړولو ته اړتیا نشته ده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ وایي، د دې کمېټې جوړولو ته هېڅ راز اړتیا نشته ده. ننګ زیاتوي: «موږ دلته یوه تخنیکي او حقوقي کمېټه لرو. موږ په ټولو مسایلو پوهېږو. دلته پوره ظرفیت شته دی، د ستونزې په ټولو لورو پوهېږي او کولی شي په اړه یې پرېکړه وکړي. د دې کمېټې جوړولو ته اړتیا نشته، دا مسایل سره ګډوډوي.»
په ورته وخت کې ټاکنیزې ډلې بیا پر کمېسیونونو غږ کوي چې ژر تر ژره خپله پرېکړه اعلان کړي او وخت دې نه ضایع کوي. د دولت ساز ټیم ویاند غفور احمد جاوید ویلي، دوی قوانینو او د کمېسیونونو هغو پرېکړو ته درناوی لري چې د قوانینو پر بنسټ تر سره کېږي. هغه وایي: «موږ قوانینو ته درناوی لرو، هر هغه څه چې د قوانینو له مخې پرېکړه کېږي، دوی ته د منلو وړ ده. د دواړو کمېسیونونو پرېکړې هم راته مهمې دي، خو که دا هر څه د وخت ضایع کول وي، بیا موږ ته د منلو وړ نه ده.»
د ثبات او همپالنې ټیم بیا وایي چې کمېسیونونه باید د ټولو ټاکنیزو ډلو نظر ته درناوی وکړي. د دې ټاکنیزې ډلې ویاند وایي، اوس ټولې پرېکړې د ټاکنیزو شکایتونو په کمېسیون پورې اړه لري او دوی باید مسوولانه او له قانون سره سمه پرېکړه وکړي.
ټاکنیزې نانډرۍ داسې مهال اوږدېږي چې ولس د پایلو په اعلان کې له ځنډ شکایت کوي. ډېر نړیوال بنسټونه هم د ټاکنو کمېسیون په چارو کې دغه ځنډ غندي او له کمېسیونونو غواړي چې ژر تر ژره دې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې اعلان کړي.

# راپورونه: د سوري پوځ د عملیاتو له کبله زرګونه کسان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي

د سوریې پوځ ویلي، د دغه هېواد د شمال په ادلیب او حلب ښارونو کې یې له مخالفینو ډېرې سیمې نیولې دي.
دغه پوځ ویلي، په وروستیو څو ورځو کې یې په ادلیب او حلب ښارونو کې ۶۰۰ کیلومتره سیمې نیولې او د لسګونو کلیو او ستراتېژیکو سیمو کنټرول یې په لاس کې اخیستی دی.
د سوریې پوځ په یوه بیان کې ویلي چې په ادلیب ښار کې یې له ختیځ او په حلب کې یې له جَنوب لورو بریدونه کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې دغه دواړه ښارونه د سوریې د حکومت ضد ډلو له وروستیو مرکزونو یادېږي.
پوځ ویلي، په دې سیمو کې تر هغو عملیات جاري ساتي چې د سوریې ټوله خاوره د حکومتي عسکرو لاس ته نه وي لوېدلې.
دا په داسې حال کې ده چې د سوریې حکومتي عسکرو په تېره یوه اونۍ کې د سراقب ښار بشپړ کنټرول په لاس کې واخیست چې په ادلیب کې د وروستي پرمختګ لپاره مهم بلل کېده. تر سراقب مخکې په جنورۍ میاشت کې معرهالنعمان ښار نیول شوی و.
د راپورونو له مخې، د سوریې د پوځ له خوا بریدونه چې په ځمکنیو ځواکونو سربېره، هوایي ځواک هم ورسره مل دی او د روسیې له همکارۍ برخمن دي، د لسګونو زرو کسانو د بې کوره کېدو سبب ګرځېدلي دي.
د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې ویلي چې عام خلک له خپلو سیمو په تېښته دي او د سوریې او ترکیې سرحدي سیمو ته یې ځانونه رسولي دي. په ورته وخت کې پښوا تر دې هم ډېر سوریایان له جګړو په تېښته د ترکیې سرحدي ښارونو ته رسېدلي.
په ادلیب او حلب کې د سوریې حکومتي پوځیان داسې وخت پرمختګ کوي چې سوریې، ترکیې او روسیې په جنوري کې په سیمه کې پر یوه اوربند موافقه وکړه. روسیه او ترکیه د سوریې د کورنۍ جګړې له مختلفو لورو ملاتړ کوي.
بلخوا د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د سوریې حکومتي عسکرو ته خبرداری ورکړی چې د ادلیب له امن سیمو ووځي، کنه انقره به لاس پکار شي. هغه دغه راز ویلي چې که سوري ځواکونه خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي، د دوی له غبرګون سره به مخ شي.



## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### د ۲۴ قراطه سرو زرو ژوند کول




**٤. نورو ته ووایئ چې تاسو د خپلو چارو مسئول وګڼي!**

کله داسې شوي چې پر یو څه کار کوئ او یو څوک مو شا ته ولاړ وي او کار مو څاري؟ که هو، نو حتما به مو نه وي خوښ شوي. ځکه دا کار د ډېرو خلکو نه خوښېږي. ان که څوک دوی ګوري چې مخلص او مسئولیت پذیره دي که نه، دا کار هم د ډېرو خلکو نه خوښېږي. که تاسو د زرین قانون پر اساس ژوند غواړئ، نو خلک دې کار ته را وبولئ چې تاسو وڅاري، ځکه حساب ورکول انسان تر هر څه ډېر مخلص او رښتینی کوي.

دا جالبه ده، موږ نه غواړو چې څوک دې زموږ نیمګړتیاوې را وښیي او دا هم نه غواړو چې زموږ نیمګړتیاوې دې نورو ته ښکاره شي. خو که وده او پرمختګ غواړو، نو هغه درد باید وزغمو چې نورو ته زموږ نیمګړتیاوې ښکاره کول یې راکوي. خلوص او رښتینولي د انسان د شخصي ژوند بنسټ او مسئولیت اخیستل او حساب ورکول یې ستنه ده. دا په موږ کې د لوړو اخلاقي ارزښتونو پر اساس د ژوند ژمنتیا پیاوړې کوي.

د امریکا په بحري ځواکونو کې باید مادون خپل امر ته حساب ورکړي؛ خو د بحري ځواکونو پخواني کفتان مایک ابراشوف یو کتاب لیکلی دی، د دې کتاب نوم «ستا کښتۍ» دی. نوموړی وایي له ما به چې په خدمت کې د کوم معیار تمه کېده، ما حتی له هغو هم ځان لوړ کړی و. ده څو ځله پخپله ځان د واشنګټن پوسټ ارزونې ته وړاندې کړی و. نوموړي به ویل، زه هغه کار نه کوم چې سبا یې په ورځپاڼه کې ونه لولم او وياړ پرې ونه کړم. څومره ښکلی فکر دی!

**د زرین قانون پر اساس سوداګري**

تاسو چې د لویو خلکو ژوند لولئ، نو پر دې پوهېږئ چې کله یې د ۲۴ قراطه سرو زور پر اساس ژوند کړی دی. جي سي پیني پر همدې نوم د مغازو خاوند دی، دی د یوه بزګر زوی او په میسوري کې رالوی شوی و. د ده پلار په ماشومتوب کې د ده شخصیت جوړ کړی و. پر ځان باور، کاروبار او زرین قانون یې ور زده کړي وو. مثلاً دی چې لا د اتو کلو و، د جامو لپاره پیسې ترې غوښتل شوې وې.

پیني د پیسو لپاره کار وکړ او اته نیم ډالره یې راټول کړل چې ځان ته پرې یو کوچنی څاروی واخلي. بیا یې د ګاونډیانو کره کار وکړ چې دې څاروي ته یوه کوټنۍ جوړه او پټه کړي. دا څاروی یې وساته او بېرته یې چې خرڅ کړ، نو ښه ګټه یې پکې وکړه. د دې کار ګټه یې چې ولیده، بل ځل یې ډېر واخیستل او ټول یې په یوه ریبل شوي پټي کې راټول کړل. څاروي یې غټېدل او پیني په تمه و چې دا ځل به بیا ښه ګټه پکې کوي؛ خو بیا یې یوه ورځ ورته وویل چې دا څاروي خرڅ کړه، ځکه ګاونډیان یې له بویه سر ټکوي. پیني وایي:((د څارویو بازار چنداني ښه نه و ... . زما پلار له ګاونډیانو سره پر زرین قانون ژوند کاوه او دا ورته مهمه وه چې زه هم باید همداسې وکړم.)) ۴

پیني چې لږ رالوی شو، نو پوه شو چې د سوداګرۍ مهارت لري، په دې خاطر یې بیا سوداګري پیل کړه. پلار یې هم وهڅاوه او ورته وې ویل چې تل مخلص او رښتینی یې. بیا یې دا مرسته هم ورسره وکړه چې د میسوري په هیملټن سیمه کې د وچو توکو په یوه مغازه کې دنده واخلي. دلته بیا جي سي پیني خپله سوداګري زده کړه. دی به چې نورو مغازو ته ورتلو، نو ډېره خواري به یې کوله او له خلکو سره به یې داسې چلن کاوه چې ده یې له خلکو تمه درلوده. په یوه مغازه کې یې ولیدل چې یو ډول جرابې په بېلابېلو بیو پلورل کېږي او د خلکو له ناخبرۍ ناوړه ګټه اخیستل کېږي، نو استعفا یې ورکړه. څه وخت وروسته بیا په یوه مغازه کې عیار شو او هلته د شراکت غوښتنه ترې وشوه. دی په سوداګرۍ کې ډېر تکړه و، سړي په یوه نوې پرانیستل کېدونکې مغازه کې هم د شراکت بلنه ورکړه. بیا چې اصلي شریک په(۱۹۰۷ز) کې کاروبار پرېښوده، نو پیني ټول کاروبار ترې واخیست.

پیني په ټوله شمالي امریکا کې د زنځیري مغازو ارمان درلود. طریقه یې دا وه چې یو مخلص کاروباري کس به یې پیدا کړ او د کاروبار طریقه به یې ورته ورښوده. بیا به چې هغوی د خپلو مغازو په مدیریت کولو کې تکړه شول، کاروبار به یې ښه شو او نورو خلکو ته به یې دا روزنه ورکولای شوه، نو ده به په نوې مغازه کې د شراکت بلنه ورکړه، عینا لکه ده ته چې دا بلنه ورکړل شوې وه. ده چې لومړی مدیر په خپله مغازه کې شراکت ته را وباله، نو ورته وې ویل:((زه فکر کوم چې که موږ سم خلک پیدا کړو او سم یې وروزو، نو دوی به د شراکت د مفکورې په اصلي روح پوه شي.)) ۵

پر دې مغازو یې څه نوم کېښود؟ پر مغازو یې د خپل کاروبار د فلسفې نوم کېښود «زرین قانون مغازې » پیني ویلي:((ما چې په دې نوم او مانا کاروبار پیلاوه، نو له ټولنیزه پلوه مې ځان په هغو کاروباري اړیکو کې تاړه، زما د کورنۍ رښتیني او حتمي برخه وه. ما ته پر دوکان راځړېدلې لوحه یوازې د کاروبار نوم نه و.)) ٦

**دوام لري...**

# ستیفن کینګ

شفیق امیرزی



د نړۍ په ادبیاتو کې دمګړۍ څو نومونه هسک تېټ کېږي. داسې لیکوالان چې زموږ معاصر بلل کېږي، مخکښ دي، نومونه یې وتلي دي او ډېر مینه وال لري. له دې ډلې یو یې هم سټیون کېنګ دی. مکمل نوم یې سټیون اډوین کېنګ دی، خو پر سټیفن کېنګ مشهور شوی دی. ده تر ۲۰۰ پورې ادبي اثار لیکلي دي، تر ډېره د وحشتناکو ناولونو لیکوال ګڼل کېږي، مینه وال یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې شته دي، لا هم لیکل کوي او له ناولونو او کیسو یې په امریکا کې ډېر فلمونه جوړ شوي دي.

سټیفن اډوین کېنګ په ۱۹۴۷ز کال کې د امریکا په پورتلند کې دې نړۍ ته راغلی دی. دی د ډونالډ او نیلي روت دویم اولاد و. دی لا نوی نوی ګرځېدو چې مور او پلار یې له یو بل بېل شول. دی یې له مور سره پاتې شو، بیا له خپلې مور او یوه ورور سره د امریکا د اینډیانا ایالت فورت وین ته راغلل. څو کاله یې دلته ژوند وکړ. دی چې یوولس کلن و، نو مور یې له ځان سره دورهام ته یوړ او هلته یې د ده نیکه او نیا ته تسلیم کړ. خو د سټیفن ساتنې ته یې په وس نه وه پوره، دوی نور ډېر زاړه شوي وو. د کورنۍ نورو غړو یې هم په دې شرط د هغه ساتنې مسوولیت اخیست چې مور یې باید مالي امکانات ورته برابر کړي وای. مور یې په پیني لنډ کې په یوه پخلنځي کې آشپزي کوله. میرمن کېنګ همدلته اشپزي کوله چې نیکه او نیا یې سټیون بېرته ورته واستاوه.

سټیون په دورهام کې د ژبو په یوه ښوونځي کې زده کړې کولې. بیا په لیسبون کې یوه ښوونځي ته لاړ. په ۱۹٦٦ز کال کې فارغ شو. په همدې ایالت کې یې په اورونو پوهنتون کې خپلې زده کړې پیل کړې. له لیکوالۍ او لیکلو سره یې سخته مینه وه. همدلته یې د خپل پوهنتون په اونیزه کې د یوه کالم لیکل پیل کړل. ده د (THE MAINE CAMPUS) په نامه ځانګړې برخه لرله او هلته به یې لیکل کول. ده د سیاسي علومو په برخه کې هم زده کړې کولې. دلته هم فعال شاګرد و. دی د هغو کسانو له کتار سره یو ځای شوی و، چې د ویتنام د جګړې مخالفت یې کاوه.

سټیون په ۱۹۷۱ز کال کې له تابیتا سپروک سره واده وکړ. دی له نوموړې سره د پوهنتون په کتابتون کې معرفي شوی و. دواړو د فراغت لپاره پر خپل مونوګراف کار کاوه. له همدې ځایه سره نږدې شول او له یو بل سره یې واده وکړ. دوی خپل لګښتونه د لیکلو او لیکوالۍ له لارې پوره کول. له (men's magazines) سره یې کار کاوه، هلته به یې خپلې پنځونې پلورلې او ژوند یې تېراوه.

سټیفن خپله لومړنۍ د پلور وړ کیسه په ۱۹٦۷ز کال کې لیکلې وه. دا کیسه (The Glass Floor) نومېده. کیسه له حیرانوونکو رمزونو او رازونو ډکه ده. د واده په لومړیو کلونو کې یې ټول وخت د ناولونو په لیکلو تېراوه. دا یې بیا پر (men's magazines) مجله پلورل.

کېنګ په ۱۹۷۱ز کال کې د انګلیسي ژبې تدریس پیل کړ. دی په یوه ښوونځي او (Hampden) اکاډمۍ کې استاد شو. کېنګ په دې اکاډمۍ کې هم لیکلو ته ادامه ورکړه. لنډې کیسې به یې لیکلې او دا لړۍ یې په دوامداره توګه غځوله. ده همدا راز هڅه کوله چې په دې منځ کې لوړې کیسې او لوړ ناولونه ولیکي. د ۱۹۷۳ز کال په پسرلي کې (Doubleday & Co) انتشاراتو د هغه یو داستان خپور کړ. د دغو انتشاراتو شرط دا و چې کېنګ باید استادي پرېږدي او خپل ټول وخت لیکوالۍ ته وقف کړي. له دې وروسته د ۱۹۷۳ز کال د اوړي په وروستیو کې د کېنګ کورنۍ د مین لوېدیځ ته وکوچېده. لامل یې هم دا و چې د سټیون مور نور دلته ګزاره نه شوی کولی او جسماني وضعیت یې هم ښه نه و.

د کېنګ په ژوند کې هر څه له هغه شپې پیل شول چې پلار یې له کوټې د سګریټ څکولو لپاره ووت. ده عادت درلود چې ماښام سګریټ وڅکوي، همدا یې د پلار او مور د بېلتون شېبه وه، هغه هېڅکله بېرته را ونه ګرځېد. تر همدې پېښې وروسته د کورنۍ تر ټولو شوخ او له خبرو ډک هلک پر یوه عاجز، خجالتي او بې جرئته هلک بدل شو. اوس سټیفن کېنګ د نړۍ په کچه یو مشهور لیکوال دی. ډېر پلویان لري او هرې نوې کیسې او ناول ته یې خلک په تمه وي.

کېنګ د نړۍ د نورو کیسه لیکوالو په څېر د لیکلو لپاره چټک لارس لري، هنرمند انسان دی. د هغه چټکې لیکوالۍ او ژر ژر کیسې لیکلو د تاج او تخت لوبې د مسلسل فلمي داستان لیکوال جي آر آر مارټن هم حیران کړی دی. دی وایي، سټیون ډېر چټک لیکل کوي او دا لیکوالي خورا حیرانوونکې ده.

مارټین له سټیفن کېنګ سره په خبرو کې له هغه پوښتنه وکړه، ته څنګه او څه ډول دومره په سرعت او چټک لیکل کوې؟ د ځان په اړه یې دا وویل چې په شپږو میاشتو کې پر دې بریالی شو چې د تاج او تخت د لوبې سریال د دریو فصلونو کیسه ولیکي. ده دا کار ځان ته ستر وياړ او مهم پرمختګ ګاڼه. خو وروسته یې پام شوی چې کېنګ په همدې موده کې درې داستاني کتابونه لیکلي. مارټین دې کار حیران کړی و. مارټین وایي، کله چې لیکوالي پیلوي، هر څه ډېر ورو ورو مخ ته ځي، بیا یې چک کوي، له ځان سره مایوس شي او وایي، کاشکې د دې لیکوالۍ پر ځای نلدوان وای.

کېنګ د مارټین کار ستایي او وایي، دی د ورځې درې- څلور ساعته کار کوي چې ایله شپږ پاڼې کیسه ولیکي. خو په حقیقت کې داسې نه ده. مارټین د یوه ۳٦۰ مخیز کتاب پر لیکلو یوازې دوې میاشتې تېروي. هغه د نړۍ له چټکو لیکوالانو ګڼل کېږي، چې ښایي په دې برخه کې ساری ونه لري.

مخکې مو هم وویل چې کېنګ د یوې څلور کسیزې کورنۍ شوخ، خو وروسته خجالتي ماشوم و. هغه دې حد ته رسېدلی و چې له ډېرو معمولي څېزونو ډارېده. د هېڅا ټلیفون ته یې له وېرې او بې جرئتۍ ځواب نه ورکاوه. په هغو دریو واړو کورونو کې چې ده د ماشومتوب، نوې ځوانۍ او ځوانۍ په وخت کې ژوند کاوه، ځانوژنې شوې وې. خو ګورئ دا مو په یاد وي چې هېڅ پېښې هم د کېنګ په ذهن کې د لیکوال کېدو مفکوره نه ده پیدا کړې. اصلي کیسه د ۱۹۵۰ز کال له وروستیو پیلېږي. له ده سره د لیکوالۍ فکر دلته پیدا شو.

کېنګ چې کله غوښتل د خپل د یوه ملګري له ورور سره یوه اونیزه چاپ کړي، نو دوی اړ وو چې کارونه سره ووېشي. کار په دې ښه و چې کېنګ باید د نشریې مطالب لیکلی او ډیویډ باید دغه نشریه چاپ کړې او خپره کړې وای. ډیویډ د چاپ یو ماشین اخیستی و. د خپلو وسایلو له کتلو او تنظیمولو یې خوند اخیست، سټیفن هم له کلماتو سره لوبې کولې، کیسې یې لیکلې او په دې توګه نو دواړه په نوي کار کې خوشاله وو. دوی خپله ورځپاڼه په پنځه سنټه پلورله. هر سهار به یې د سیمې د خلکو کورونو ته هم رسوله. د دوی وړه نشریه دومره مشهوره او مهمه شوه چې ان په سیمه کې نورو ورځپاڼو او لویو نشراتي بنسټونو هم له دوی تقلید پیل کړ.

کېنګ له ښوونځي خوښ نه و. پخپله وايي، په ښوونځي کې یې د خوشالۍ احساس نه کاوه، برعکس خسته او زړه تنګی و. د دې کسالت او سترړیا له دامه د خلاصون لپاره یې په خپل ملګري چلسي د لنډو کیسو ټولګه چاپ کړه. په همدې وخت کې یې په یوه مجله کې د (زه د قبرونو غل ځوان وم) داستان چاپ شو. دی د محدودو زده کوونکو له ډلې و چې خپل فیس یې پرې کولی شوای او په مین پوهنتون کې یې زده کړو ته ادامه ورکولی شوای.

د کېنګ لومړنۍ دنده معلمي وه، په دې موده کې یې هم لیکوالي کوله، خو ناشرانو یې لیکنې او کیسې نه چاپولې. ده به چې ور وړې، بېرته به یې ځواب کړ. دی یې په کیسه کې نه و، د دوی د رد ځواب پروا یې نه ساتله او خپلې لیکوالۍ ته یې ادامه ورکوله. په دې توګه نو برخلیک خپل ښه مخ هم کېنګ ته ور وښود. یو انتشاراتو د هغه کري ناول د چاپ لپاره ومانه. دې پېښې د کېنګ په ژوند کې یو نوی بدلون راوست. څو میاشتې وروسته دغه نشراتي ارګان د کتاب د چاپ ټول حقوق د امریکا پر سراسري کتابتون وپلورل. د دې پلور بیه څلور سوه زره امریکایي ډالره وه. د دې پیسو نیمایي سټیون کېنګ ته ورسېدې. کېنګ همدا له خدایه غوښتل، نو معلمي یې پرېښوده او لیکوالۍ ته یې کش ورکړ. د دې کتاب له چاپه درې کاله وروسته فلم جوړونکی برایان دي پالما هغه ته ورغی او ده ته یې وړاندیز وکړ چې له یاد ناول یو فلم جوړ کړي. سټیفن اجازه ورکړه، دا فلم د اسکار د دوو جایزو لپاره نوماند شو. کتونکي او د ادبي مسایلو شنونکي دا تر ټولو غوره وحشتناک فلم بولي.

کېنګ هم د دې فلم د نندارې پر وخت حیران و. په فلم کې له شته وحشتناکو صحنو وېرېده او د سینما په صالون کې له وېرې پورته پورته غورځېده. د فلم ډایرکټر بیا بیخي ورته حیران و، دې ته یې زړه اوبه اوبه کېده چې د وحشتناکو داستانونو سلطان یې په خپل فلم داسې وېرولی دی. ډېل ترو پر دې پوهېده چې د خلکو وېرول، وېروونکې داستانونه او فلمونه لیکل دا دومره ساده خبره نه ده او پوره زیار ته اړتیا لري.

سټیون یوازې وېروونکې داستانونه ښه لیکلی شي. داسې نه ده چې ده غوښتي نور سبکونه هم و ازمویي، خو بریالی نه شو او دومره د خلکو له هرکلي سره مخ نه شول. خو دی په شعوري توګه د وحشتناکو ناولونو لیکلو ته جوړ شوی دی، په همدې سبک کې راحت وي او نن هم په نړۍ کې د وحشتناکو داستانونو د پادشا په نوم مشهور دی. ځینې یې د وحشت پادشا بولي.

د کېنګ له کیسو د فلمونو جوړولو کیسه دلته نه ختمېږي. د هغه له ناولونو ډېر فلمونه او ډرامې جوړې شوې دي. ځینې چې فلمونه او ادبیات څاري، پر دې باور دي چې فلمونه د کېنګ تر ناولونو ډېر پیاوړي او لا وېروونکي جوړ شوي دي. کېنګ هېڅ وخت دې ته نه هیجاني کېدو چې له کیسو فلمونه جوړېږي. دی یې هېڅ پروا نه ساتي چې د ده په زړه یې له کیسو فلم جوړوي که یې د تمې خلاف، د خلکو خوښېږي که نه، خو دی یوازې لیکل کوي. دی په پوره ارامتیا هر سهار د خپل کار دفتر ته ځي، قهوه څښي، د مېز څټ ته کېني او تر غرمې لیکل کوي. د ډوډۍ او استراحت لپاره یې څو ساعته کار ته دمه کور کوي، بیا یې تر مازدیګره لیکلو ته ادامه ورکوي.

دی لیکلو ته بیخي د یوې رسمي دندې په سترګه ګوري. ډېر لیکل کوي، لږ خبرې کوي او تر ډېره له کتابونو سره بوخت وي. دا هر څه بیا تر توپان مخکې ارامتیا ته ورته وي. ناول لیکي، بازار ته یې وړاندې کوي او شاوخوا ټوله چوپتیا یې په وحشتناکو ناولونو له منځه ځي. زرګونه لیکونه ورته راځي. لسګونه فلم جوړونکي په دې تمه وي چې دی یې داستان ورکړي او دوی فلم ورباندې جوړ کړي. په دې اړه هم ډېر غوښتنلیکونه ورته راځي، خو وایي، لیونی کېږم، تر چا ورسېږم او چا ته کیسه ولیکم.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳۵ |
| € | ۸٤,٤۰ |
| Rp. | ٤۹۳ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# ځنګه ښه ژوند وکړو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

موږ ډېری داسې فکر کوو چې د خوشاله اوسېدو لپاره باید د خپل ژوند معمولي عادتونه بدل کړو او یا هم دا چې موږ باید ډېرې پیسې ولرو. اصل خبره دا ده چې موږ په ژوند کې د خوشاله اوسېدو لپاره کافي دلایل لرو، اوس اصلي کیسه دا ده چې ځنګه کولای شو له دې تنګ او لنډ ژوند څخه خوند واخلو؟ پر دې موضوع پوهېدل یو مهارت غواړي او دا مهارت د نورو مهارتونو په څېر تکرار او تمرین ته اړتیا لري. همدا اوس، ډېری هغه شیان چې له ژونده د خوند اخیستو پر مهال هغه ته اړتیا ده، موږ ډېری هغه څیزونه لرو او له ژونده د خوند اخیستو تر ټولو اساسي لار لومړیتونه دي. همدا اوس باید دې پوښتنې ته چې ځنګه ښه ژوند وکړو؟ داسې ځواب ورکړو: له ژونده د خوند اخیستو لپاره باید د خپلو کارونو او وړتیاوو تر منځ لومړیتوبونه وټاکو.

ډېری کسان له ژونده د خوند اخیستو د لارو چارو د پیدا کولو په لټه کې دي، موږ په همدې مقاله کې تاسې ته هغه ۲۵ اسانه لارې چارې ښیو چې په مټ یې کولای شی له ژونده خوند واخلئ.

**۱. پر خپل ځان مو تمرکز وکړئ**

موږ هر وخت د نورو سپارښتنو او خبرو ته غوږ یاستو، هغوی هر وخت د هغوی د تجربو او نظریو له تاکید او د هغه له سم بللو سره مینه لري. خو اصل خبره دا ده چې زموږ د ټولو انتخابونو، تصمیمونو او عواقبو مسوولیت زمو پر غاړه دی، نه د بل چا پر غاړه. نو ښه ده چې له بل هر څه مخکې پر خپل ځان، فکر، د کار پر طرز، له نورو سر په برخورد او اړیکو پاللو تمرکز وکړو او د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ښې لارې وټاکو.

**۲. ارام او استراحت کولو ته وخت ورکړئ**

د ژوند په سختو او ستونزمنو حالاتو کې ښه ده چې یوڅه وخت شخصي استراحت او ارامۍ ته ورکړو. استراحت کول خپل مخکیني حالت ته د بېرته ستنېدلو او د انرژۍ بېرته اخیستلو تر ټولو ښه لار ده.

**۳. ډېر خبرونه مه اورئ**

د خبرونو په تله کې ځان ور اچول ډېر اسانه دي او له عمومي او مهمو مسایلو باخبره اوسېدل هم څه سخته خبره نه ده. ښه دا ده چې ډاډه اوسو، که هر ورځ خبرونه تعقیب هم نه کړو، د هېواد او نړۍ له مهمو پېښو خبرېږو. نو ښه ده چې خپل ډېر وخت د خبرونو اورېدو ته ور نه کړو او د هغه پر ځای بل مهم کار وکړو. که تاسې د ورځې په جریان کې منفي خبرونه د بېلګې په ډول په یو ښار کې د یوې چاودنې او په هغه کې د مړو او زخمیانو خبر واورئ، طبیعي ده چې ستاسې به ډېر زړه پرې بد شي او ټوله ورځ به مو ګډه وډه کړي. هره ورځ د بدو او له کشمکشونو ډکو خبرونو اورېدل مو د وخت په تېرېدو سره پر ذهن منفي اغېز کوي او دا اغېز مو ټول ژوند تر خپل کنټرول لاندې راولي.

**۴. خپلې مثبتې اړیکې مو پراخې کړئ**

له ژونده د خوند اخیستو په موخه کولای شو د خپل ژوند له ملګري، کورنۍ او ملګرو سره د ښو اړیکو ساتلو او پاللو ته وخت ورکړو. باید له داسې کسانو سره اړیکې جوړې کړو چې هغوی زموږ پر ژوند مثبت اغېز وکړي او په موږ کې د یو مثبت بدلون راوستو باعث شي.

**۵. له نوو کسانو سره خبرې وکړئ**

ژوند په ټوله کې د انسان له اساسي وړتیا یوه هغه ده. نو پر همدې اساس له نوو کسانو سره اشنا کېدل د انسان روحیه پیاوړې کوي. کله چې موږ له نوو کسانو سره اشنا کېږو، هغه ده چې له نوو فکرونو او ایډیاوو هم خبرېږو، چې له هغه سره زموږ په ژوند کې اسانتیاوې را منځ ته کېږي.

**٦. سفر وکړئ**

د دې لپاره چې له ژونده خوند واخلی، باید نورو ځایونو ته سفر وکړئ، له بېلابېلو فرهنګونو سره اشنا شئ او بالاخره د نورې نړۍ په اړه معلومات پیدا کړئ.

**۷. ناضرور توکي له ځانه لرې کړئ**

ډېره ګڼه ګوڼه او بیروبار، یا په کوټه کې د ټولو وسایلو ګډوډ پرېښودل او یا هم جامې سمې او په یوه معلوم ځای کې نه ځوړندول مو د ذهني نا ارامۍ سبب کېږي. ښه ده چې ناضرور ټول توکي مو د اوسېدو له کوټې، د کمپیوټر له سکرین، د جامو له تناب او پخلنځي څخه لرې کړئ، منظم اوسېدل ژوند ته خوند ورکوي.

**۸. شکر او منننې ایستلو ته وخت ورکړئ**

ښه ده چې هر ورځ درې هغه دلایل چې موږ یې له امله خوشاله شوي یو، د خپلو یاداښتونو په کتابچه کې ولیکو او له امله یې چې خدای ج هغه پر موږ لورولي، د هغه شکر پر ځای کړو. د شکر پر ځای کول زموږ په وجود کې ښه احساس پیدا کوي او مرسته راسره کوي چې له پرون ورځې نن په ښه شکل خپل کارونه تر سره کړو.

**۹. د وخت ضایع کوونکي دلیلونه مو و ارزوئ**

ممکن ډېر وخت تاسې هم داسې کړي وي چې د یوې ورځې له ډېر ژر تېرېدو وروسته مو چې کله له ځان سره فکر کړی دی، د ټولې ورځې په اوږدو کې مو هېڅ پرمختګ یا په ښه ډول کار نه دی کړی. ښه ده چې د دې کار دلایل ولټوئ او د له منځه وړلو لپاره یې هماغه لحظه پکار شئ. د بېلګې په ډول، که تاسې په ټلیفون کې له اړتیا ډېرې خبرې کوی، نور مو دا عادت پرېږدئ او له اړتیا زیاتې خبرې مه کوئ.

**۱۰. فردي وړتیا مو پیاوړې کړئ**

هرڅومره چې د ځان په اړه ډېر معلومات او پر ځان ډېر باور ولرو، هماغومره به ډېر دروني رضایت تر لاسه کړو. په دې اړه زیاته مطالعه درسره مرسته کولای شي.

**۱۱. خپلې بریاوې مو ونمانځئ**

د یوې بریا له لاسته راوړلو وروسته مو د هغه لپاره حد اقل یو وړ جشن جوړ کړئ او هغه له خپلې کورنۍ او دوستانو سره یو ځای ونمانځئ. دا په تاسې کې ښه احساس پیدا کوي او د نورو موخو تر لاسه کولو ته مو هڅوي.

**۱۲. له کوچنیو او معمولي پېښو هم خوند واخلئ**

دا مهمه نه ده چې حتماً دې داسې یوه مشخصه پېښه رامنځ ته شي چې تاسې د دې هغې له امله خوشالي ونمانځی. ښه ده چې له ځینو معمولي پېښو هم د خوند اخیستو په پار هغه ونمانځئ. د بېلګې په ډول، کوچنی زوی مو د لومړي ځل لپاره ستاسې نوم اخیستی، ښه ده چې د هغه د نوې ژبې زده کولو په پار هغه ته یوه ښه ډالۍ واخلئ.

**۱۳. له کوره بیرون ووځئ**

د خپل حالت د ښه کولو لپاره ښه ده چې له کوره بیرون ووځو، له خپلو ماشومانو سره په چمن کې لوبې وکړو، د غره سر ته وخېژو او له هغه د لرې ځایونو سیل وکړو.

**۱۴. خپل نظر مو په جرئت سره ووایئ**

کله چې د خپل نظر له څرګندولو وېرېږو، مانا دا چې موږ پر خپل ځان باور نه لرو. د خپلو فکرونو، ایډیاوو او غوښتنو په اړه خبرې کول کېدای شي په لومړیو کې یو څه درته سخت وي، خو وروسته بیا له دې کاره خوند اخلی.

**۱۵. د ژوند ښې شېبې مو ثبت کړئ**

د ښو احساساتو یا خاطرو لرلو او په وار وار له هغه د خوند اخیستو لپاره ښه ده چې د هغه صحنې عکسونه او ویډیوګانې له ځان سره وساتو. کله یې چې وروسته ګورو، د هماغه شېبو احساس به کوو.

**۱٦. هر وخت زده کړې وکړئ**

هر وخت د نوو زده کړو لپاره وخت ځانګړی کړئ، د نوو څیزونو په زده کولو سره به تاسې ښه احساس کوی. د خپلو ملګرو په پرتله به ډېر معلومات لری او د یوې موضوع په اړه به خپل نظر په جرئت سره څرګندولی شی.

## د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت: د افغان کډوالو په تړاو دوه ورځنی نړیوال کنفرانس جوړېږي



د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغان کډوالو په اړه دوه ورځنی نړیوال کنفرانس جوړوي چې پکې به تر ۲۰ د ډېرو هېوادونو استازي ګډون وکړي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دا دوه ورځنی کنفرانس د ملګرو ملتونو د کډوالو له عالي کمېشنرۍ سره په ګډه، راتلونکې اونۍ د سلواغې په ۲۸ مه او ۲۹مه جوړېږي. سرچینې زیاته کړې چې دغه نړیوال کنفرانس په پاکستان کې د افغان کډوالو د اوسېدو د ٤۰ کلونو پوره کېدو په مناسبت جوړېږي او موخه یې له افغان کډوالو سره یووالی څرګندول دي.


په خبرپاڼه کې راغلي چې د کنفرانس پرانیسته به د پاکستان لومړی وزیر عمران خان کوي، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو ستر کمېشنر فلیپو ګرانډي، د شاوخوا ۲۰ هېوادونو وزیران، استازي او سفیران به پکې ګډون او وېناوې وکړي.

د سرچینې په خبره، د هغو هېوادونو استازي به په دغه کنفرانس کې ګډون کوي چې په تېرو ٤۰ کلونو کې یې له افغان کډوالو سره په بېلابېلو برخو کې مرستې او همکارۍ کړې دي.

په خبرپانه کې راغلي، دغه کنفرانس په داسې حال کې جوړېږي چې په افغانستان کې د سولې پروسې هم پرمختګ کړی دی.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت هیله څرګنده کړې چې په دغه کنفرانس کې به نړیواله ټولنه یو ځل بیا افغان کډوالو ته خپله پاملرنه زیاتوي.

## سرچینې: د ناټو دفاع وزیران سبا او بل سبا د افغانستان په اړه په بلجیم کې ناسته کوي



ټاکل شوې چې د ناټو د دفاع وزیران د نورو موضوعاتو تر څنګ، د افغانستان په اړه هم خبرې وکړي.

په بلجیم کې د ناټو سازمان د مطبوعاتي دفتر یوه چارواکي رسنیو ته ویلي چې د ناټو د دفاع وزیرانو دوه ورځنۍ غونډه د سلواغې په ۲۳مه او ۲٤مه په بروکسل کې جوړېږي.

سرچینې زیاته کړې چې په دې ناسته کې به په بېلابېلو هېوادونو کې د ناټو ماموریتونه او عملیات و ارزول شي.

د ناټو دغه چارواکي ویلي چې دغه راز په دې ناسته کې به د ناټو او اروپایي اتحادیې پر ګډې همکارۍ هم خبرې وشي، چې پکې د اروپایي اتحادیې مرستیال او استازي ګډون کوي.

د سرچینې په خبره، د دې غونډې په دویمه ورځ به د افغانستان په اړه ځانګړې ناسته وشي چې پکې د ناټو د دفاع وزیرانو تر څنګ، د هغو متحدینو استازي هم ګډون کوي چې په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت کې ونډه لري.

سرچینې ویلي چې په دې ځانګړې ناسته کې د افغانستان د ملي دفاع وزیر اسدالله خالد، په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی نېکولاس کې، په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال مېلر، د ملګرو ملتونو، اروپایي اتحادیې او نړیوال بانک استازي هم ګډون کوي.

دغه چارواکي زیاته کړې چې په دې ځانګړې ناسته کې د افغانستان د وروستیو حالاتو د ارزونې تر څنګ، د سولې پر پروسې او له افغانستان سره د ناټو پر دوامداره همکاریو خبرې کېږي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ملي دفاع وزارت مرستیال فواد امان هم له رسنیو سره په خبرو کې منلې، چې د ملي دفاع وزیر اسدالله خالد په دې ناسته کې ګډون کوي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۲۲مه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۱۱مه | ۵۱۲مه گنه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱۷ | ۱۵ | ۱٤ | ١٦ | ١١ |
| ۱ | ٤ | ۱۰ | ۷ | ٤ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۰ | لمر ختل ۰٦:٤٤ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیگر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰۵:۳۲ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ



## راپورونه: د سوري پوځ د عملیاتو له کبله زرګونه کسان د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي

۳

## لاوروف: د نویو وسلو په تړاو له امریکایي اړخ سره خبرو ته تیار یو

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرگي لاوروف ویلي، هېواد یې تیار دی چې د خپلو نویو وسلو په تړاو له امریکایي اړخ سره خبرې وکړي.
هغه له یوې روسي رسنۍ سره په خبرو کې ویلي چې دوی تیار دي څو د یوه ستراتېژیک تړون په چوکاټ کې له امریکا سره خبرې وکړي.
د تاس خبري اژانس د راپور له مخې، لاوروف ویلي: «زه یو ځل بیا وایم چې زموږ پوځ تیار دی چې د نویو وسلو په اړه له امریکایي لوري سره له نږدې خبرې وکړي.»
لاوروف ویلي چې دغه وسلې یې له امریکا سره د بالستیک توغندیو د هوکړې له ماتېدو وروسته جوړې کړې او زیاته کړې یې ده: «له هغې هوکړې د څو لسیزو له تېرېدو وروسته، ټولو اغېزمنو عواملو ته په کتو تیار یو چې د تړون په چوکاټ کې له امریکایي اړخ سره خبرې وکړو او پر راتلونکي احتمالي تړون هم خبرې وکړو.»
دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د امریکا او روسیې تر منځ د لنډ واټن ویشتونکو بالستیک توغندیو هوکړه په رسمي توگه ماته شوه او دواړو هېوادونو یو ځل بیا د وسلو جوړولو نوې سیالۍ پیل کړې.

## الغانمي: په عراق کې له ۱۵ نظامي اډو څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ پیل شوې ده



د عراق د پارلمان د دفاعي کمېټې غړي علي الغانمي ویلي چې امریکا په دغه هېواد کې له ۱۵ نظامي اډو څخه د خپلو پوځیانو د ایستلو لړۍ پیل کړې ده.
نوموړي په بغداد کې یوه خبري کنفرانس ته ویلي چې د عراقي چارواکو له ټینگار وروسته په دغه هېواد کې له ۱۵ نظامي اډو د امریکایي ځواکونو وتل پیل شوي دي.
هغه زیاته کړې چې امریکایي ځواکونه اوسمهال یوازې تر اربیل او عین الاسد نظامي اډو محدود شوي او ډېر ژر به پاتې اډې له دغو ځواکونو خالي شي. الغانمي دغه راز ویلي چې امریکا هڅه کوي چې په یادو دوو اډو کې ډېر شمېر سرتېري پرېږدي، خو د نوموړي په خبره، حکومت او پارلمان به دغه کار ته اجازه ور نه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د عراق د پارلمان له پرېکړې وروسته، د دغه هېواد حکومت هم اعلان وکړ چې د پارلمان پرېکړه ورته د منلو ده او له دغه هېواده یې د ټولو امریکایي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه. د یادونې ده چې بغداد ته نږدې د امریکا په یوه هوایي برید کې د ایران د سپاه پاسداران ځواک مشر قاسم سلیماني له وژل کېدو وروسته، په سیمه کې د کړکېچ په رامنځ ته کېدو کې د عراق پارلمان له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو اعلان وکړ.


## نی: امریهٔ وزارت داخله در مورد محدودیت مصاحبه های منسوبین پولیس با رسانه‌ها خلاف قانون است



دفتر حمایت کننده رسانه‌های آزاد افغانستان، امریهٔ وزارت داخله در مورد محدودیت مصاحبه‌های منسوبین پولیس با رسانه‌ها را خلاف قانون خوانده، می گوید که این امر باید بر اساس قانون بازنگری شود.
وزارت داخله در صفحه فیسبوک خود نوشته است: «هیچ یکی از روسا، قوماندانان و منسوبین پولیس ملی نمی تواند با مطبوعات مصاحبه و یا در شبکه‌های اجتماعی از موقف رسمی اظهار نظر نمایند. در صورت ضرورت بعد از اخذ هدایت مقام وزارت در هماهنگی با ریاست عمومی ارتباطات ستراتیژیک اجراآت لازم صورت گیرد.» در قسمت دیگر این امریه آمده است که: «هیچ منسوب وزارت امور داخله نمی تواند اسرار، اسناد تقرر، تبدیلی، ترفیعات و سایر احوال ذاتی، تصاویر منسوبین با یونیفورم، وسایط، اسلحه، تجهیزات، جلسات و مراسم تبریکی را در صفحات اجتماعی نشر و پیرامون موارد مختلف همچون نحوهٔ بازرسی، تحقیق دوسیه‌های جنایی، دستاوردها، سایر موارد مربوط به عملیات‌های ضد جرایم و انتقاد از رهبری و منسوبین برحال و انفصال شده در رسانه ها مصاحبه نمایند.» منبع نوشته است که این امر را بر اساس بند اول ماده ۳۰ قانون پولیس، به منظور حفظ اسرار وظیفوی و جلوگیری از پراکندگی در قسمت ارایه اطلاعات به شهروندان صادر کرده است.
اما مجیب خلوتگر رئیس اجرایی دفتر حمایت کننده رسانه های آزاد افغانستان «نی» گفته است که این امر وزارت امور داخله، خلاف آزادی بیان و قانون دسترسی به اطلاعات است. به گفتهٔ او منع کردن منسوبین وزارت داخله از مصاحبه با رسانه‌ها، خلاف ماده ۳۴ قانون اساسی کشور می باشد.


## ژوند

## که غواړئ ژر زاړه نه شئ، نو بڼوالي وکړئ



څېړونکو ثابته کړې ده چې پر بڼوالۍ بوخت کسان تر نورو کسانو منظم، خوښ او ډېر عمر کوي. پوهانو ویلي چې د باغ او باغچې پر چارو بوخت څو پنځوس کلن کسان یې تر خپلو هغو همزولو چې پر نورو کارونو بوخت وو، ژوند ته لېوال، خوښ او له روغتیایي اړخه ډاډمن ښکارېدل. د رویټرز اژانس له راپور سره سم د امریکا په تکزاس کې د دوو پوهنتونونو څېړونکو کابو درې سوه کسان چې تر پنځوسو کلونو یې عمرونه ډېر وو، پر دوو ډلو ووېشل، یوه ډله هغه چې له باغ او باغچې سره یې سرو کار نه و او بله ډله هغه چې په باغ او باغچه کې یې هم کار کاوه. له څېړنې وروسته جوته شوه چې په باغ او باغچه کې پر کار بوختو ۷۱ سلنه کسانو ځانونه ځوان احساسول. دغه راز د باغ او باغچې په چاروکې بوختو کسانو تر نورو هغو په ځانونو کې ډېره انرژي لیده، تر نورو یې ډېر ورزش کاوه او له ذهني پلوه هم تر نورو تکړه او فعال وو. دوی تازه میوې او تازه سابه ډېر خوړل او له ژونده یې خوند اخیست.

## د جوارو له دې گټو به نه وی خبر؟



جوار نه یوازې دا چې د انسان عمومي روغتیا ته گټور دي، د دې تر څنګ، دا د وزن له کموالي سره هم مرسته کوي. پر دې سربېره، جوار هډوکي کلکوي او پوستکي ته ځانګړې ښکلا هم ورکوي. څېړنو ثابته کړې چې په جوارو کې شته مواد د پوستکي د ښکلا او صافوالي لامل کېږي. د جوارو اوړه په خپل ترکیب کې پروټین لري او نه پرېږدي چې د مخ پوستکی زوړ او گونځې شي. په جوارو کې د ویټامین اې موجودیت د دې لامل کېږي، چې د مخ داغونه او د لمر له امله رامنځ ته شوي تور داغونه له منځه یوسي. د جوارو په اوړو کې شته منرالونه او امینو اسیدونه پوستکی تازه او نرم ساتي. په دې اوړو کې د اې ویټامین هم شته، چې ورسره د مخ سره خاپونه ختمیږي. پر دې سربېره، جورا نورې گټې هم لري، مانا دا چې په ټوله کې د روغتیا لپاره گټور دي. جوار که په هره بڼه وخوړل شي، بیا هم خپل غذایي او روغتیایي ارزښت ساتي. په نوره نړۍ کې د تازه جوارو دانې په سلاد او یا هم په ټوله کې د غذایي رژیم یوه برخه بلل کېږي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

ماسټر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515

